خپلواکی استقلال
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی پنجشنبه ۲۹ جون ۲۰۲۳

# زندگی احمدشاه بابا

بسم الله الرحمن الرحيم

## پيل

هر ملت ځني مفاخر لري، چه تل په هغو وياړي او ژوندي کوي ئي، د يوه ملت تاريخ هم له دغو ښخه جوړيږي، او هر څوک چه ئې ولولي نو په درناوي ورته ګوري او د دوی لوړتيا هيڅکله نه هيروي!

موږ پښتانه خو هم په تاريخ کي يوه ښه برخه لرو، زموږ نيکونه او پخوانی ميرونه د خپل عصر نوميالی او بريالی وه او د منځنی ايشيا تاريخ د دوی په لوړو کارنامو روڼ دي، نو موږ ته ښايي چه دا خپل مشعشع تاريخ هير نه کو،

او تل په دې کي زيار وکاږو، چه زموږ زامن د خپلو نيکونو او پخوانو پښتنو په لوړتياو او ميړانو پوه وي، او هيڅکله هغه خپل تاريخي برم هير نه کي.

په دې سلسله کي نوميالی او لوړ مړونه، او د پښتنو علمي او ادبي، حربي مفاخر په خپلو راتلونکو زامنو پيژندل او د دوی ټوله لوړي کار نامي ښوول او ليکل، د اوسنيو پوهانو وظيفه ده.

نن ورځ زموږ هيواد د ښاغلی او لوړتيا غوښتونکی حکومت تر سيوری لاندي، د لوړتيا او پر مخ يون لار په ښه ډول ورو ورو پريکوي، او هغه ټوله چاري چه د يوه اولس د سموالی او لوړتوب دپاره غوښتلی کيږي، زموږ په ښادمن هيواد کي هم پاللي کيږي!

پښتو ټولنه چه د دې نيکمرغه عصر، او د اعليحضرت ځلمی ټولواک محمد ظاهر شاه پښتون د دورې، د پښتو او پښتنو يوه خدمت کونکي موسسه ده، غواړي چه زياتي پر نورو علمی او ادبی چارو، د پښتنخوا نوميالو په معرفي کولو کي هم برخه واخلی، او دوی د علم او ادب له پلوه په پښتنو

وپيژني.

زموږ د هيواد د يو لوی بريالی، او د پښتنو د تاريخ يو روڼ ستوری اعليحضرت لوی احمد شاه بابا دئ، چه د دنيا تاريخ او پښتانه دی يو مشهور بريالی او ستر فاتح ګڼي، مګر د ده علمي او ادبي مقام چا ته نه دي ښکاره او لږ خلق په دې خبر دي، چه دا نوميالی فاتح، او د پښتونخوا ستر ميړه، د پښتو ژبي د ادب يو لوی روزونکي، او غوره اديب او شاعر هم دي، او دئ د خپل عصر يو ښه عالم او مصلح مفکر هم ګڼل کيږي!

په دې کتاب کي به موږ دغه خبري، په ښه ډول خپلو ښاغلو ويونکو ته څرګندي کړو، او د لوی احمد شاه بابا د شعر پښتو ديوان به هم در وړاندي کړو.

په ۱۳۱۷ش کال چه ع،ش، سردار عالی محمد داؤد خان د قندهار ملکی او عسکری مشر وو، دوی د خپلو معارف غوښتوله لامله، ما ته د اعليحضرت احمد شاه بابا د ديوان د چاپولو تشويق راکي، ځکه چه دا د شعر مجموعه تر اوسه نه ده چاپ شوې، او که ځني بدلي ئې مستشرقينو ميندلي او چاپ کړي دی، هغه هم ډيري غلطي دي، او د شعر پر اصولو نه سميږی. ۱

---

۱. راورتی په ګلشن روه او هيوز په کليد افغانی کي ځني د احمد شاه بابا بدلي چاپ کړي دي.

نو د دې ګرانبها ديوان تصحيح خو له يوې نسخې څخه ممکن نه و او لازمه وه چه درې څلور نسخې وکتل شي، په دې کار کي هم زه کامياب شوم، او له ښه مرغه مي درې زړې نسخې وميندلې، او دا کتاب مي ځني تصحيح او تکميل کي، چه د هغو نسخو تفصيل به د دې مقدمې په پاي کي د توضيح تر عنوان لاندي وسي، دا کتاب دوې برخی دي:

لمړئ برخه: د اعليحضرت احمد شاه بابا پر شاعری او علمی او ادبی مقام او د ده پر افکارو مفصله تبصره ده، او تر سلو تنو پوري د ده د مملکت علمي او ادبي رجال هم معرفي شوي دي، چه د ده ادبي او علمی معاصرين ګڼل کيږي.

دوهمه برخه د ده مردف د شعر ديوان دئ، چه د تهجي حروفو پر ترتيب تصحيح او تدوين شوی دی او ځاي ځاي حاشيه هم پر ليکلې شوې ده، چه اوس تاسي ته وړاندی کيږي.

دمخه تر دې چي تاسي په اصل کتاب پيل وکي، ښه به وي چه په دې مقدمه کي لنډ لنډ د بريالی پلار احمد شاه بابا د ژوندون سوانح هم ولولي که څه هم دغه تاريخی کار نامي بيل کتاب غواړی، مګر دلته د ضرورت له لامله موږ د ده د ژوندون وقايع لنډ ذکر کوو:

احمد شاه بابا د زمان خان زوی د دولت خان لمسی د سرمست خان کړوسی وو چه دغه سرمست خان د شیر خان زوی، او د خواجه خضر خان لمسی او د سدو خان کړوسی کیدي، او دا هغه سدو خان دئ، چه د احمد شاه بابا قبیله د ده له ټبره وه، سدوزی خو د پوپلزیو یوه پښه ده، چه له سربنو پښتنو څخه د اودل له پښته ګڼله کیږي. ۲

۲. حیات افغانی د محمد حیات خان د لاهور طبع ص ۱۱۷ او خورشید جهان د شیر محمد ګنداپور د لاهور طبع.

د احمد شاه بابا نیکه دولت خان د پښتنو مشر وو، چه د قندهار د ښهر صفا په کلاو کي د صفوی حکومت نائب الحکومه ګرګین خان دی مړ کی، ځکه چه د ارغسان پښتانه له دغه جهته د ګرګین خان سره وجنګیده نو ګرګین خان د دولت خان زوی رستم خان په مشرتوب ومانه، او د احمد شاه بابا پلار چه زمان خان نومیده، د یرغمل په ډول د ګرګین په دربار کي وو.

وروسته چي حاجی میرویس خان مشهور مشر له خوا د صفویانو د حکومت کمبله ټوله شوه، نو زمان خان په هرات کي د پښتنو مشر وو، او په ۱۱۳۵ه وفات شو، د احمد شاه بابا بل ورور ذولفقار خان هم یو مشهور پښتون حربی سړی دي، چه د هرات مشر وو، او د نادر افشار له خوا په ۱۱۵۰ه کي مازندران ته نفي شو. ۳ له تاریخی پلټونو څخه ښکاریږي، چه احمد شاه بابا په

۳. وګوری تاریخ سلطانی د خالص قندهاری د بمبی طبع او حیات افغانی او خورشید جهان.

۱۱۳۵ ه په هرات کي زوکړی او مور ئي زرغونه نومیده، چه د قندهار د کوهک په کلي کي ئي قبر دي، او خلق ئي زرغونه انا بولي.

په ۱۱۵۰ه چه نادر افشار قندهار فتح کاوه، احمد شاه بابا د ۱٦ کالو او د ده په دربار کي وو، وروسته چه د خراسان په فتح آباد کي د یکشنبې په شپه ۱۱ جمادی الاخر ۱۱٦۰ه نادر شاه مړ کړه سو نو احمد شاه بابا قندهار ته راغي، او د عمر په ۲۵ کال په ۱۱٦۰ه د قندهار د شیر سرخ په کلی کي پاچا سو ٤ په دغه وخت کي د شوال میاشت وه.

٤ وګوری سراج التواریخ، حیات افغانی، تاریخ سلطانی، تاریخ احمدی د عبدالکریم قلمی.

احمد شاه بابا ښهٔ اخلاق درلوده، متشرع عادل عالم پاچا وو، د خلقو سره يې د پلارتوب سلوک کاوه. نادر افشار به ويل چه ما تر احمد شاه بل نيک اخلاق سړی په ټوله ايران او توران کي ندی ليدلی. ٥ احمد شاه بابا چه پر تخت

٥. د عبدالکريم تاريخ احمدی، قلمی.

کښينوست، ده يو ملی حکومت تشکيل کئ، چه د پښتنو مشران په سلا او اداره کي ور سره مله وه، خارجی مؤرخينو دا طرز فيوډل سيستم بللی دي. ٦

٦. د ملسيون افغانستان طبع ٢ لندن.

احمد شاه بابا د افغانستان په ملی وحدت کي ډير زيار وکيښ او ټوله ملت ئي سره يو کړ، ده خپلو رعاياؤ ته د مساوات او پلار ګلوی په سترګه کاته، نو ئې دوی هم تر اوسه "بابا" بولي. ٧ د دې پوه

٧. تتمه البيان د سيد جمال الدين د مصر طبع ص ٦٩.

او نوميالي پاچا د مملکت داخلی اصلاحات ډير دي. ده په دننه هيواد کي داخلی تشکيلات سم کړه، عسکري، اداري، علمي، او مدني اصلاحات ئي وکړه، وزراء ئي مقرر کړه، د ماليئي دوائر، شرعی محاکم ئي بنا کړه، پخپل حضور کي ئې ديوان اشاء او درباري دوائر جوړ کړه، عرض بيګي، مهماندار باشي، اردو باشي، جارچي باشي، ميرآخور، خزانه دار، هر کاره باشي (استخبارات) ضبط بيګي او نور ده ملکي مامورين وه، د حربي ادارو مرکز دفتر نظام باله کيده چه نقليت او د سيورسات مامورين ئي هم درلوده، عسکر پياده، سپاره منظم وه. پر دغه علاوه "ايله جاری" عسکر هم وه، د احمد شاه بابا په فتوحاتو کي دغو منظمو او غير منظمو لښکرو ډير خدمتونه کړي دي.

احمد شاه بابا ځني عمراني خدمتونه هم کړي دي، په ١١٧٤ﻫ ئي د قندهار اوسنی ښار جوړ کي، په ١١٦٦ﻫ ئي د کابل پر ښار جنګی کوټ راوګرزاوه، په شمالی ولاياتو کي ئې د تاشقرغان ښار جوړ کي، په سند کي په ١١٨٢ﻫ د ده نائب الحکومه غلام شاخان د حيدرآباد ښار بنا کړ، او په ١١٧٠ﻫ ئې په مکه معظمه کي د پښتنو حاجی خانه جوړه کړه. علاوه پر دغه د ده په عصر کي ډيري ولې او کاريزونه هم کښل شوی او مملکت په زرغون شوی دي، د قندهار مشهوره واله، پاتاو، هم ده کښلې ده، چه اوس د قندهار شاه خوا په زرغونه دي، ده د خپل مرقد خورا نفيسه او عاليشانه ګنبده هم پخپل ژوندون کي جوړه کړيده، او خرقه شريفه ئي له بدخشانه قندهار ته راوړه.

salamwatanam@gmail.com

د احمد شاه بابا د عصر نښان د غنمو وږی، او توره او يو ستوری وو، چه پر اکثرو سکو ئې سته، د ده طلائي، نقرئي او مسي سکې ډيري دي، چه په قندهار، کابل، ملتان او نور ښارو کي وهلي شوی دي.

احمد شاه بابا د خپل عصر لوی فاتح دي، ده ډير حربی سفرونه کړي دي چه لاندی لنډ لنډ ذکر کيږي:

١ . د ١١٦١هـ سفر چه په دې دوره کي احمد شاه بابا کابل، پيښور، سند او لاهور او ملتان د خپل مملکت ضميمه کړه، او ديرش زره لښکر ور سره وه، او په سر هند کي ئې د هند له امپراطور سره جګړه وکړه او بيرته د پيښور او کابل له لاري قندهار ته راغي.

٢ . دوهم سفر د ١١٦٢هـ دئ، چه په دې سفر کي ټوله پنجاب په افغانستان پوري ونښت، او د اټک غاړي ئې اصلاح کړې.

٣ .دريم سفر په ١١٦٣هـ کي وو، په دې سفر کي احمد شاه بابا هرات او مشهد او نيشاپور ته ولاړ، او بلوچستان ئې د خپل مملکت ضميمه کي.

٤ . څلورم سفر په ١١٦٤هـ دي، چه احمد شاه بابا په دې سفر کي ټوله خراسان ونيوي او نيشاپور ئې فتح کړ، او شهرخ مرزا چه د نادر شاه له کورنی څخه هلته وو، بيرته ئې پاچا کي، او د ده لور ئې خپل زوی تيمور شاه ته وغوښته، وروسته احمد شاه هرات ته راغي، او لس (١٠) زره لښکر ئې د شاه ولی خان وزير اعظم په مشرتوب ميمنې، مزار، او قطغن ته واستول، چه هغه ځايونه ئې اصلاح کړه.

٥ .په پنځم سفر کي احمد شاه بابا په ١١٦٤-١١٦٦هـ بيا پنجاب ته ولاړ، او کشمير ئې فتح کړ او د اټک پر غاړو ئې ټوله د پښتنو ځايونه وليدل.

٦ . په ١١٧٠هـ بيا احمد شاه بابا پنجاب ته ولاړ، او دغه ځاي ئې سم کړ، کشمير ته ئې هم لښکر واستاوه، او بيرته ئې لاس ته راوړ، او په جمعه ٨ د جمادی الاول د ده بريالي لښکر په ډهلی ننووت، او د مغولی شاهنشاهی مرکز ئې فتح کړ. احمد شاه بابا د ډهلی د مغولی پاچا محمد عزيزالدين عالمګير ثاني سره خپلوی وکړه، او هلته ئې وزراء او د لښکر مشران مقرر کړل، پاچهي ئې هم هغه پاچا ته پريښووه، او د پښتنو ديرش زره لښکر بې له دې چه د ډهلی ښار ته تاوان ورسوي، تر يوې مياشتی هستوګني وروسته بيرته پنجاب ته راغی، او پر لاری ئې ډير بدخواهان پر ځای له شرار ته کښينول، او د پيښور له لاري کابل او قندهار ته ولاړ، په دې سفر کي زموږ پلار هندوستان فتح کي، مګر بيرته ئې د هغه ځاي پاچا ته وباخښه.

salamwatanam@gmail.com

۷ . د احمد شاه بابا اوم سفر په ۱۱۷۳-۱۱۷٤هـ کي دي، په دې کال د ده یو مشهور منصبدار او غښتلی ملګری نصیر خان بلوڅ د استقلال اعلان وکي، نو پخپله احمد شاه بابا د دوولس زرو سپرو سره مستونګ ته ولاړ، او نصیر خان ته ئې ماته ورکړه، او د بلوچستان په کلات کي ئي محاصره کړ، وروسته دا لوی خان بیرته تسلیم سو، او احمد شاه بابا عفو کي، تر دې وروسته نو د بولان پر لار سند او پنجاب ته ولاړ، او د پاني پت پر میدان ئې د مرېټانو لسو لکو تنو لښکرو ته ماته ورکړه، په دې مشهور جنګ کي د احمد شاه بابا ټوله لښکر ٦۰ زره وه، خو د دښمن تلفات ۲ لک تنه وه، دا جنګ په ٦ د جمادی الاخر ۱۱۷۰هـ د احمد شاه بابا په لوی او تاریخی بری ختم سو، او غنایم ۵۰ زره اسان، دوه لکه غوایی، پنځه سوه پیلان، او څو زره اوښان وه، دوه ویشت زره تنه ژوندی بندیان د پښتنو په لاس کي ولویدل، تر دې جنګ وروسته بیا احمد شاه د مغولی کورنی پاچا پر پاچهي پریښو، او پخپله قندهار ته ولاړ.

۸ . اتم سفر په ۱۱۷۵ تر ۱۱۷۷هـ پوری اوږد وو، په دې سفر کي ده د یاغی سکهاو ریښي په پنجاب کي وکښلې ، د سر هند سره ئي د رجب په یولسمه ورځ ۱۱۷۵هـ د سیکهانو له اویا زرو لښکرو څخه ۲۵ زره تنه مړه کړه، او دوه کاله په پنجاب کي و، ځکه چه کشمیر بیا یاغی سوي وو، نو ئې کشمیر هم بیا ایل کړ، او په ۱۱۷۷هـ د ملتان او ډیرو له خوا د ګومل له درې څخه غزنی او بیا قندهار ته ولاړ.

۹ . د احمد شاه نهم سفر په ۱۱۸۱هـ کي وو، چه د تخارستان او شمالی ولایاتو سمون ئې وکړ. او د بخارا پاچا عبدالعزیز خان سره ئې روغه وکړه، او د افغانستان حدود ئې له بخارا سره وټاکل، دغه د اعلیحضرت آخرني حربي سفر وو. ۸

۸ د دغو سفرونو تفسیلات وګوري په حیات افغانی، سراج التواریخ، خورشید جهان، تاریخ سلطانی، تاریخ هند د ای مارسدن، تاریخ هند د سید ابو ظفر ندوی، سیر المتاء خربن، سر جان ملکم او ملیسون او مکمن او نور...

اعلیحضرت ښاغلی احمد شاه بابا په ۱۱۷۷هـ د اوږدو سفرو او زحمتو په سبب ډیر ناروغه سو، نو تر دې وروسته دی په داخلی اصلاحاتو بخت وو، څو چه په ۱۱۸٦هـ کال د هوا د تبدیلی دپاره د توبې غره ته ولاړ چه د کوږک یو ښه ځاي دي، او په دغه ځاي کي د سرطان په مرض ۹ د عمر پر ۵۱ کال په ۲۰ د رجب چه د جمعې شپه وه وفات، او د قندهار په ښار کي ښخ سو.

salamwatanam@gmail.com

په دې  ډول زمونږ ښاغلی او غښتلی پلار احمد شاه بابا، د خپل عصر یو بریالی نابغه وو، چه یوازې د حرب او جنګ پهلوان نه ، بلکه د علم او ادب او اصلاح علمبردار هم وو.

---

٩د امیر عبدالرحمن خان تاج التواریخ، ج ٢ فصل ٧.

د دې کتاب راټلونکې پاڼې به تاسې ته په ښه ډول د ده علمی او ادبی کارنامې هم ښکاره کې.

کابل شوربازار د قوس اول ١٣١٩ش

عبدالحی حبیبی، د پښتو ټولنی عمومی مدیر

پایان قسمت اول

ادامه دارد...